لمړي خبرونه

# ولسمشر غني د چارواکو د شتمنيو د ثبتولو امر وکړ

جوزا 12, 1395 جعفر هاند




شریک کول

ولسمشر محمد اشرف غني له ټولو جګپوړو حکومتي چارواکو غوښتي چې خپلې شتمنۍ، جایدادونه او ملکیتونه ثبت او راجستر کړي. د ارګ اعلامیه وایي د سه شنبې په ماښام د "اقتصاد د عالي شورا" په غونډه کې دا پریکړه وشوه، چې اصلي هدف یې د فساد مخنیوی بلل کیږي.

افغان چارواکي وايي له فساد سره د مبارزې او د "لوړ پوړو دولتي مقاماتو د شتمنيو د ثبت" مسوده يې ولسي جرګې ته استولې ده، خو افغانستان له فساد سره د مبارزې قانون لري، چې له چارواکو غواړي خپلې شتمنۍ او جايدادونه ثبت کړي.

ولسمشر غني ويلي چې د فساد په ضد مبارزه په تشو شعارونو نه کيږي او عملي اقداماتو ته اړتيا شته.

پوښتنه دا ده، چې دا کار به د فساد سره په مبارزې کې څومره ګټور وي؟ د سياسي چارو کارپوه مطيع الله اباسين د امريکا غږ اشنا ته وويل که دا کار عملي شي، د فساد سره مبارزه به هم تر ډېرې اندازې بريالۍ شي.

ښاغلي اباسن وويل " ډېر چارواکي دي چې نه يې سرمايه معلومه نه ده، نه يې د عايداتو لارې، نه يې حکومت ته د ماليې ورکولو اندازه، خو ورځ په ورځ شتمن کيږي او د کورونو او جايدادونو مالکان کيږي. د شتمنيو او جايدادنو په ثبت او راجستر سره به دا هر څه معلوم شي. ولس هم غواړي چې په دې ټولو خبر شي".

دا لومړی ځل نه دی، چې حکومت له چارواکو غواړي خپل جايدادونه او شتنمۍ ثبت کړي، د پخواني ولسمشر کرزي په حکومت کې هم دا غوښتنه شوې.

ولسمشر غني د تېر کال د نومبر په مياشت کې په حکومتي ورځپاڼې انيس کې خپله شتمنۍ او جايدادونه اعلان کړل، چې ۴.۷ ميليونه ډالره وه. ولسمشر غني وايي د څه باندې څلور جريبه ځمکې په اندازه په کابل کې يو کور هم لري. هغه وايي چې د شتمنيو ډېره برخه يې د ميرمنې، رولا غني، ده.

همدغه راز د افغانستان اجرایي ریس عبدالله عبدالله هم خپل شتمني او جایدادونه اعلان کړي. هغه وایي ټوله نقدي شتمني یې شاوخوا ۱۵۳ زره ډالره ده او د کابل په ښار کې یو کور او په پغمان کې یو جریب ځمکه لري.

شاید دغو مشرانو غوښتي وي، چې په دغه کار سره نور چارواکي هم وهڅول شي چې دا کار وکړي،خو دا به وروسته معلومه شي، چې کوم حکومتي مقامات، څومره شتمنۍ او جایدادونه لري او شاید ځینې یې داسې هم وي چې هېڅ هم ثبت نکړي.



## جعفر هاند

جعفر هاند د هند په اندرا ګاندي پوهنتون کې په سیاسي علومو کې ماسټري کړې ده؛ د ننګرهار په پوهنتون کې یې قضا لوستې ده. له ۲۰۰۷ نه تر ۲۰۱۴ کاله پورې د بي بي سي د نړیوالې او افغان څانګې خبریال او پروډیوسر و. د ۲۰۱۴ کال له پیل راهیسې په واشنګټن کې د امریکا غږ اشنا راډیو/تلویزون خبریال دی.

خوښول تعقیب یې کړئ ګډون کول

## له موږ سره په تماس کې پاتې شئ

## معلومات

اړيکې

## نورې ژبې

صدای امریکا دری

ډيوه راډيو

صدای امریکا فارسی

VOA English

وائس آف امریکہ

## ټلويزيون

اشنا ټلويزيون

کاروان

انګليسي ژبه

## اشنا راډیو

د سهار لمړۍ خپرونه
خبرې اترې
ماښامنۍ خپرونه
اشنا ټک
دوهمه سهارنۍ خپرونه
نجیبه-نوشابه